
# د محفلِ میلادِ مصطفٰے برکتونه

29-September-2022



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

## په 29 ستمبر کال 2022ءباندی د پاکستان په هفته واره اجتماع کښې کیدونکے بیان

# د محفلِ میلادِ مصطفٰے برکتونه

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- په کوم طُور باندې ذِکرِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم
- محفلِ میلاد کله کله کولے شئ؟
- میلاد کول هم په تعظیمِ مصطفٰے کښې شامل دے
- د محفلِ میلادِ مصطفٰے برکتونه
- د جشنِ ولادت لمانځلو 12 مدني ګلونه

پیشکش
اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (اسلامِک ریسرچ سنٹر)
(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُود شريف فضيلت

یو بُزرګ یو ګس د وفات کیدو نه پس په خوب کښې اولیدو او پوښتنه ئې ترې اوکړه: مَافَعَلَ اللهُ بِكَ؟ یعني الله پاک ستاسو سره څه مُعامَله اوکړه؟ اوئې فرمائیل: الله پاک زه اوبخښلم- پوښتنه ئې ترې اوکړه: په څه سبب؟ اوئې فرمائیل: ما به د یو مُحدِّث صاحب (یعني د حدیث شریف علم لرونکي) سره حدیثِ پاک لیکل، هغوئي د نبیانو په سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُودِ پاک اولوستلو نو ما هم په تیز آوازسره درودِ پاک اولوستلو، چې حاضِرو خلقو واوریدلو نو هغوئي هم درودِ پاک اولوستلو نو الله پاک د هغې په برکت باندې مونږ ټول بخښلي یو-[(1)]

أعمال نہ دیکھے یہ دیکھا
مولا نے مجھے یوں بخش دیا
محبوب کے کوچے کا ہے گدا
سُبحانَ الله سُبحانَ الله

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

### د بیان اوریدلو نیتونه

په حدیث شریف کښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نیت بنده جنت ته داخلوی-[(2)]

**اے عاشقانِ رَسُول!** د ښه ښه نیتونو سره د عمل ثواب زیاتیږي- راځئ! د بیان اوریدلو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به پوره بیان اورم. ❀ د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به په ادب سره کښینم ❀ ښه په توجو به بیان اورم ❀ څه چې واورم د هغې به د یادولو، بخپله

[1]...القول البدیع، صفحہ:254-
[2]...مسند فِردَوس، جلد:4، صفحہ:305، حدیث:6895-

پرېږ د عمل کولو او نورو ته د رَسَولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## څوک چې په مونږ خوشحالیږی، مونږ هم د هغه نه خوشحالیږو

علامه اِبنِ جوزي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکي چې: یو ځل د حضرت علامه اِبنِ نعمان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بخت رابیدار شواو په خوب کښې ئے د رسولِ مختار، د نبیانو د سردار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زیارت نصیب شو، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرته تشریف وړلو، علامه اِبنِ نعمان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زه وروړاندې شوم او د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلي لاسونه مبارک مې ښکل کړل او عرض مې اوکړو: یَا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! چرته تشریف وړئ؟ هغوی اوفرمائیل: د فلانکي ګس سره میلاویدو له ځم۔ ما عرض اوکړو: یَا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! تاسو خو د دومره لوئےمرتبې (محبوبِ خُدا، امامُ الانبیا، د دواړو جهانونو آقا) ئې، تاسو د فلانکي سره ملاویدوله روان ئے؟ (یعني پکار خو دا وه چې هغه ستاسو د ملاقات د پاره حاضرشوے وے)؟ خوږ او آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جلال نه ډک انداز کښې اوفرمائیل: اے اِبنِ نعمان! ادب کوه! هغه ګس زما میلاد مناوی۔

دې اوریدو سره علامه اِبنِ نعمان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ځان لړبرابرکړو اوعرض ئې اوکړو: اے د قیامت په ورځ شفاعت کوونکي آقا (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم )! زما ځان په تاسو باندې قربان---!! د هغوئي د میلاد مناوولوپه سبب تاسو د هغوئي نه ډیر خوشحاله ئې؟ اوئې فرمائیل: اے اِبنِ نعمانه! څوک چې په مونږه خوشحالیږي، مونږ هم د هغوئي نه خوشحالیږو۔ (1)

ہو مبارک اَہلِ ایماں عیدِ میلادالنبی
ہو گئی قسمت درخشاں عیدِ میلادالنبی

چار جانِب دُھوم ہے سرکار کے میلاد کی
جھومتا ہے ہر مسلماں عیدِ میلادالنبی

کِھل اُٹھے مرجھائے دِل اور جان میں جان آگئی
آگئے ہیں جانِ جاناں عیدِ میلادالنبی

یانبی! اپنی وِلادت کی خوشی میں اپنا غم
دیجئے طیبہ کے سُلطاں عیدِ میلادالنبی (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]...حصول الفرج لابن جوزی، صفحہ: 22۔
[2]...وسائل بخشش، صفحہ:379-381 ملتقطاً۔

**اے عاشقانِ رَسُول!** اَلْحَمْدُلِلّٰه! اَلْحَمْدُلِلّٰه! ماه مبارک، ماهِ نور، یعني د رَبیعُ الاَوَّل میاشت چونکه د حُضُورِ پر نُور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وِلادتِ باسَعادت (د زیږیدلو مبارکه) میاشت ده، ځکه د دې میاشتې مبارکې د راتلو سره د خوږ خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په‌عاشقانو کښې دخوشحالئ هواراواولوځی، که بوډا وي او که ځوان هر حقیقي مسلمان لکه چې د زړه په ژبه وائي:

نثار تیری چہل پہل پر ہزار عیدیں ربیعُ الاوّل
سوائے اِبلیس کے جہاں میں سبھی تو خوشیاں منارہے ہیں

الله پاک دې زمونږ د دې مبارکې میاشتې برکتونه نصیب کړي، راځئ چې مونږ هم د جشنِ وِلادت په خوشحالئ کښې چراغونه روښانه کړو، کورونه ښائسته کړو، کوڅې ښائسته کړو، د قرآنِ پاک ډیر تلاوت اوکړو، ډیر درودِ پاک اولولو، د محبوب (صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ) د ذِکر محفلونه جوړ کړو، د ګناهونو نه پاک د شریعت په دائره کښې دننه ډیر ډیر میلادونه اوکړو، که دا هر څه په اخلاص سره، او د الله او د رسول صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رضا د پاره کوونو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دِین او دنیا بے شمیره برکتونه به مو نصیب شي- الله پاک دې مونږ له توفیق راکړي-

اٰمِیْن بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

| | |
|---|---|
| نور کی پُھوہار برسی چار سُو ہے روشنی | ہو گیا گھر گھر چَراغاں عیدِ میلادُالنَّبی |
| غنچے چٹکے، پھول مہکے ہر طرف آئی بہار | ہو گئی صبحِ بہاراں عیدِ میلادُالنَّبی |
| ہم نہ کیوں روشن کریں گھر گھر دِیے مِیلاد کے | خود کرے جب حق چَراغاں عیدِ میلادُالنَّبی |

| | | | |
|---|---|---|---|
| سرکار کی آمد! | مرحبا! | سردار کی آمد! | مرحبا! |
| رسول کی آمد! | مرحبا! | مختار کی آمد! | مرحبا! |
| اچھے کی آمد! | مرحبا! | سچے کی آمد! | مرحبا! |

## په کوهِ طُور باندې ذِکرِ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

په قرآنِ مجید کښې په مختلفو ځایونو کښې دا واقعه بیان شوې ده، په 9 سیپاره، سورهٔ اَعراف کښې د دې واقعې لږ تفصیل شوےدے، واقعه دا ده چې یو ځل الله پاک خپل نبي حضرت موسٰی کلیمُ الله عَلَیْهِ السَّلام ته

حکم اوکړو چې په بني اسرائیلو کښې 70 کسان منتخب کړئ ،هغوئي د ځان سره کړئ او کوهِ طُور ته تشریف یوسئ! حضرت موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام په حکم باندې عمل اوکړو، 70 کسان ئې منتخب کړل او هغوي ئې د ځان سره کړل او کوهِ طُور ته ئې تشریف یوړلو-

چې کوهِ طُور ته ورسیدل نو 70 کسانو ډیره غټه ګستاخي اوکړه، اوئې وئیل:

| | |
|---|---|
| یٰمُوْسٰى لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى نَرَى اللّٰهَ جَهْرَةً (پاره:1 ،سورهٔ بقره:55) | ترجَمه کنزُ الایمان: اے موسٰی مونږ به هیڅکله هم په تاسو یقین اونکړو تر څو پورې چې مونږ علانیه (ښکاره په خپلو سترګو) الله اونه وینو- |

**یاد ساتئ!** د الله پاک د دیدار خواهش کول بده خبره نه ده، دا خواهش خو حضرت موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام هم کړے وو خو دې 70 کسانو د الله پاک د دیدن خواهش اونکړه، دوئي خو سرکشي اوکړه، د دهمکئ په انداز کښې ئې په حضرت موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام باندې د بے اعتباری وکړه اوووئیل: **اے موسٰی! مونږ به ستا خبره نه منو بلکه چې الله پاک ښخپله اووینو نو ایمان به راوړو-** دا ګستاخي وه، نو ځکه د هغوئي په دې ګستاخئ باندې د الله پاک قهر نازل شو او دا ټول هغه وخت مړه کړے شول-

حضرت موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام چې دا 70 کسان د مړه لیدل نو په زړه کښې ئےخیال راغلے چې اوس که چرې زه یواځې واپس لاړ شم نو قوم به په ما باندې تور لګوي چې **مَعَاذَالله!** ما دا 70 کسان وژلي دي، نوهغوئي د الله پاک په دربار کښې دُعا اوکړه، د کومې په برکت چې الله پاک دغه 70 بني اسرائیل ژوندي کړل- (1)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په دې ټوله واقعه کښې چې غورکولوکومه خبره ده نو هغه دا ده چې حضرت موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام په دې موقع په دُعا کښې دا عرض هم اوکړو:

| | |
|---|---|
| وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الْغٰفِرِيْنَ ﴿۱۵۵﴾ (پاره:9 ،سورهٔ اعراف :155) | ترجمهٔ کنزُالایمان: او په مونږ باندې مِهر(رحم او کرم) اوکړه او ته د ټولو نه زیات ښخښونکے ئې- |

---

[1]... تفسیر نعیمی،پاره:1، سورهٔ بقره،تحت الآیة:55 ،جلد:1 ،صفحه:397 و 398 ملتقطاً و ماخوذاً ـ

د حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلَام د دې دُعا په جواب کښې الله پاک څه داسې اوفرمائیل،چې د هغې خُلاصه دا ده چې اے موسٰی! زمونږه رحمت په 3 قِسمه دے:

**(1)**: اوئې فرمائیل:

| | |
|---|---|
| وَرَحْمَتِیْ وَسِعَتْ كُلَّ شَیْءٍؕ (پاره:9، سورۀ اعراف:156) | ترجمۀ کنزُ الایمان: او زما رحمت هر څیز راګیر کړے دے۔ |

یعني اے موسٰی! یو زمونږ عام رحمت دے، کوم چې په دنیا کښې ظاهریږي، دا رحمت هر یو ګس ته میلاویږي، مثلاً رِزق، صحت، ژوند، د لمر سپوږمۍ رڼړا وغیره دا هغه رحمتونه دي کوم چې کافِر ته هم میلاویږي، مسلمان ته هم میلاویږي، ګنهګار ته هم ورکړے کیږي، فرمانبرداره ته هم ورکړے کیږي۔ (1)

**(2)**: اوئې فرمائیل:

| | |
|---|---|
| فَسَاَكْتُبُهَا لِلَّذِیْنَ یَتَّقُوْنَ وَ یُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَ الَّذِیْنَ هُمْ بِاٰیٰتِنَا یُؤْمِنُوْنَۚ(۱۵۶) (پاره:9، سورۀ اعراف:156) | ترجمۀ کنزُالایمان: نو زر ده چې زه به نعمتونه د هغوئي د پاره اولیکم څوک چې ویریږي او زکوٰة ورکوي او زمونږه په آیتونو باندې ایمان راوړي۔ |

د ایمان دولت، دنیا کښې د نیکۍ توفیق، قبر کښې کامیابي، په آخرت کښې نجات، جنَّت ته تلل وغیره، دا رحمت صِرف هغوئي ته میلاویږي څوک چې تقویٰ والا، پرهیزګاره وي، په خاص طور زکوٰة ورکوي، دې سره سره زمونږ په ټولو آیتونو باندې ایمان ساتي، ځکه اے موسٰی! ستا دُعا د څه بدلون سره قبلولے شي، تاسو د خپل اُمَّت د پاره رحمت اوغوښتو، عام رحمت خو ټولو ته د مخکښې نه حاصل دے، پاتې شو خاص رحمت نو هغه به ستاسو په اُمَّت کښې تقویٰ لرونکو، زکوٰة ورکوونکو او زمونږه په آیتونو باندې ایمان لرونکو ته ورکولے شي۔ (2)

**(3)**: د دې نه پس الله پاک د خپل یو بل رحمت ذِکر اوفرمائیلو، ارشاد اوشو:

| | |
|---|---|
| اَلَّذِیْنَ یَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِیَّ الْاُمِّیَّ (پاره:9، سورۀ اعراف:157) | ترجمۀ کنزُ العرفان: هغه کوم چې فرمانبرداري اوکړي د هغۀ چا سوک چې بغیر دلوستونه غیبو خبرونه ورکوونکے دے۔ |

---

[1]... تفسیر نعیمی،پاره:9،سورۀ اعراف،تحت الآیة:156، جلد:9، صفحه:266و 267 ملتقطاً و ماخوذاً۔

[2]... تفسیر نعیمی،پاره:9،سورۀ اعراف،تحت الآیة:156، جلد:9، صفحه:267 ملتقطاً و ماخوذاً۔

یعني اے موسٰی! زمونږه د خاصو نه یوخاص رحمت هم دے (لکه:پہ اُمّت کښې اَفضَل کیدل، د قیامت په ورځ جنَّت ته د ټولو نه مخکښې تلل وغیره)، دا د خاصو نه خاص رحمت صرف او صرف زما د محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِه وَسَلَّم د غلامانو د پاره دے [1] نوستاسو په قوم کښې چې کوم بني اسرائیل د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِه وَسَلَّم زمانه بیامونځي،نودهغوئي پیروي به کوي (یعني د هغوئي په لاره به روانیږي)، زمونږه د خاصو نه خاص رحمت صرف هغوئي ته میلاویدے شي۔ [2]

سُبْحٰنَ الله! اے عاشقانِ رَسُول! اندازه اولګوئ! د الله پاک د خپل محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِه وَسَلَّم سره څومره محبَّت دے---!! کوهِ طُور دے، د الله پاک نبي حضرت موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام د خپل اُمَّت د پاره رحمت غواړي خو الله پاک فرمائي: اے موسٰی! ستاسو په اُمَّت کښې چې کوم تقویٰ والاو ایمان والا دي زمونږه خاص رحمت به هغوئي ته میلاویږي، البته زمونږه د خاصو نه خاص رحمت صرف او صرف د مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِه وَسَلَّم د اُمَّت د پاره دے۔

الله اکبر! حضرت موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام ئې غواړي، د هغوئي د اُمَّت پرهیزګارانو ته خاص رحمت ورکولے شي او محبوب نبي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِه وَسَلَّم لا دنیا ته تشریف هم نه وو راوړے، د هغوئي اُمَّت بہ هم په سوؤنو کلونه پس پیدا کیده، رَبِّ کائنات د هغې نه مخکښې اعلان فرمائي: اے موسٰی! مونږه به د خپل محبوب غلامانو ته صرف خاص رحمت نه ورکوو بلکه د خاصو نه خاص رحمت به ورته هم عطا کوو۔

سُبْحٰنَ الله! د اعلٰی حضرت خوږ ورور، مولانا حَسَن رضا خان صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه څه ښکلي فرمائیلي دي:

کسی کو کسی سے ہوئی ہے نہ ہوگی | خُدا کو ہے جتنی محبت کسی کی [3]

**وضاحت**: لکه څنګه چې د الله پاک ذات او صفتونه بے مثاله دي دغه شان د الله پاک د خپل محبوب سره محبت هم بے مثاله دے چې په کائنات کښې به چا د چا سره داسې محبت نه وي کړے لکه څنګه محبت چې ئې د خوږ آقا، مدینې والا مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِه وَسَلَّم سره فرمائیلے دے۔

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اوس دا خبره لا ختمہ نہ،بیان لاجاري دے، الله پاک اوفرمائیل: اے

---

[1]... تفسیر نعیمی،پاره:9،سورۂ اعراف،تحت الآیۃ:156 ،جلد:9 ،صفحہ:266 ماخوذاً۔
[2]... تفسیر نعیمی،پاره:9،سورۂ اعراف،تحت الآیۃ:157 ،جلد:9 ،صفحہ:277 ماخوذاً۔
[3]... ذوقِ نعت ،صفحہ:234۔

موسٰی! زمونږه د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامانو ته به د خاصو نه خاص رحمت میلاویږي، اوس هغه آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څوک دے؟ د دې په بیان کښې الله پاک د حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام د پاره د خپل محبوب نبي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 9 صفتونه بیان کړل، ارشاد اوشو:

اَلَّذِیْنَ یَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِیَّ الْاُمِّیَّ الَّذِیْ یَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ فِی التَّوْرٰىةِ وَ الْاِنْجِیْلِ٘ یَاْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ وَ یَنْهٰىهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ یُحِلُّ لَهُمُ الطَّیِّبٰتِ وَ یُحَرِّمُ عَلَیْهِمُ الْخَبٰٓىٕثَ وَ یَضَعُ عَنْهُمْ اِصْرَهُمْ وَ الْاَغْلٰلَ الَّتِیْ كَانَتْ عَلَیْهِمْؕ فَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا بِهٖ وَ عَزَّرُوْهُ وَ نَصَرُوْهُ وَ اتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِیْۤ اُنْزِلَ مَعَهٗۤ ۙ اُولٰٓىٕكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ۠ (۱۵۷)

(پاره:9 ،سورۂ اعراف:157)

ترجمۂ کنزُ العرفان: هغه کوم چې فرمانبرداري دهغه چا،کوم چې بغیردلوستلو د غیبو خبرونو ورکوونکے دے کوم چې دوی( اهلِ کتاب) د ځان سره په تورات او انجیل کښې لیکلے بیامونځي، هغه به دوئي ته د نیکئ حکم کوي او دوئي به د بدئ نه منع کوي او د دوئي د پاره به پاک څیزونه حلالوي او ګنده څیزونه به په دوئي باندې حراموي او د دوئي نه به هغه بوج او قید لرې کوي کوم چې په دوئي باندې وو نو کوم خلق چې په دغه نبي ایمان راوړي او د هغه تعظیم اوکړي او د هغه مدد اوکړي او د هغه نور پیروي اوکړي (یعني په هغه نور پسې روان شي) کوم چې د هغه سره نازل کړے شی نو دغه خلق بہ فلاح (خلاصے) موندونکی وي-

یعني هغه آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څوک دے؟ اے موسٰی! **(1): هغه اَلرَّسُول (یعني په خاصو کښې خاص)** رسول دے، ټولو رسولانو ته رسالت د دوئي په برکت عطا کړے شوے دے **(2):** اے موسٰی! **زمونږه خوږ محبوب اَلنَّبِي یعني د غیبو خبرونه ورکوونکے** (په خاصو کښې خاص) نبي هم دے، د هغوئي نه علاوه چې څومره نبیان دي، هغوئي ته د نبوت تاج د دوئي په برکت سره ورعطا کړے شوے دے **(3):** اے موسٰی! **هغه اُمِّي هم دے،** یعني دوئي به د اعلیٰ مرتبې والا مور څوي بہ هم وي، په اُمُّ القرىٰ (مکّه مکرمه کښې به تشریف راوړي)، په دنیا کښې به د چا د شاګردئ، د چا د مُریدئ او د چا نه د فیض اخستو داغ د دوئي په لمن باندې نه وي، د دې باوجود به ئې شان دا وي چې د دنیا لوئي لوئي عالمان، لوئي لوئي فاضلان، لوئي لوئي

فلسفیان به د دوئي شاګردئ ته کړیګي-[1] **(4):** اے موسٰی! زمونږ د محبوب (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) پاک نوم، د دوئي اعلٰی صفتونه، تر دې پورې چې د دوئي حُلیه مبارکه هم په تورات کښې موجوده ده، په انجیل کښې به هم وي، د دوئي نوم، صفتونه، حالات به بني اسرائیلو ته یاد وي **(5):** دوئي به خلقو ته د ښه خبرو حکم کوي **(6):** د بدو خبرو نه به منع کوي **(7):** کوم ښه څیزونه چې په بني اسرائیلو باندې د هغوئي د سرکشۍ په وجه حرام کړے شوي وو، زمونږه محبوب به دغه حلالوي **(8):** کوم څیزونه چې د بني اسرائیلو د پاره په عارضي طور حلال کړے شوي دي لکه شراب وغیره، زمونږه محبوب نبي (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) به دا د همیشه د پاره حرام کړي **(9):** اے موسٰی! زمونږه محبوب نبي (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) به د بني اسرائیلو نه بوج لرې کوي یعني هغه سخت شرعي حکمونه کوم چې بني اسرائیلو ته ورکړے شوي وو لکه پلیتې (نا پاکه) جامې کټ کول، د کوم اندام نه چې ګناه اوشي، هغه د پریکول او د بدن نه بیلول وغیره، په داسې حکمونو کښې به د خپل اُمَّت د پاره نرمي اوفرمائي- الغرض زمونږه محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د حلّلِ المشکلات(مشکلاتو حل کوونکے، دافع بلیّات (دآفتونو لرې کوونکے به وي)-

اے موسٰی! بني اسرائیل یا د دنیا یو بل ګس که چرې زمونږه په محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې ایمان راوړي، د هغوئي، د هغوئي د نوم، کار یا د هغوئي سره د نسبت لرونکي هر یو څیز تعظیم (عزّت/احترام) اوکړي، د هغوئي د دین په خپله یادمال یا په بله طریقه خِدمت اوکړي، د هغوئي سره د نازل شوي نور (مثلاً قرآنِ کریم یا حدیث شریف) پیروي اوکړي (یعني په هغې باندې عمل اوکړي یا وروسې روان شي) داسې ګس به په دنیا کښې، تر مرګه پورې، په قبر کښې، په حشر کښې همیشه هر قِسمه کامیابي ترلاسه کوي- [2]

الله! الله! **اے عاشقانِ رَسُول!** اوس دلته لږ غور اوکړئ! ځائے کوم یو دے؟ کوهِ طُور، د دنیا د ټولو نه په غوره غرونو کښې یوغر، هغه غر په کوم باندې چې الله پاک خپله تجلي نازِله کړله- په دې ځائے کښې څه بیانیږي؟ د محبوبِ خُدا، سرورِ انبیا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نعتونه، د هغوئي اعلٰی صفتونه- دا هر څه فرمائیلو والا څوک دے؟ پخپله رَبِّ کائنات، اوریدونکے څوک دے؟ اُولُو العزم نبي، حضرت موسٰی کلیمُ الله عَلَیْہِ السَّلَام-

ګویا چې په کوهِ طُور باندې د ذِکرِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم محفل کیږي، الله پاک د خپل محبوب نعتونه

---

[1]... تفسیر نعیمی،پاره:9،سورۂ اعراف،تحت الآیۃ:157، جلد:9، صفحہ:277 ماخوذاً۔
[2]... تفسیر نعیمی،پاره:9،سورۂ اعراف،تحت الآیۃ:157، جلد:9، صفحہ:277 ماخوذاً۔

ذِکر فرمائي، موسٰی عَلَيۡهِ السَّلَام ئې اوري- بیا مونږ ولې اونه وایو:

| | |
|---|---|
| سب سے اَوْلیٰ و اعلیٰ ہمارا نبی | سب سے بالا و بالا ہمارا نبی |
| اپنے مولیٰ کا پیارا ہمارا نبی | دونوں عالَم کا دولہا ہمارا نبی |
| جیسے سب کا خُدا ایک ہے ویسے ہی | اِن کا اُن کا تمہارا ہمارا نبی |
| مُلکِ کونین میں انبیاء تاجدار | تاجداروں کا آقا ہمارا نبی |

## محفلِ میلاد کله کله کولے شئ؟

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په ربيعُ الأُوَّل شريف کښې خو د میلاد محفلونه کولے شي خو قربان شم! الله پاک عاشقانِ رسول ته ناشنه طبیعت عطا کړے دے، دوئي د محفلِ میلاد د پاره د ربيعُ الاَوَّل انتظار نه کوي، ټول کال محفلونه کوي ❁ که څوک په واده کښې محفل کول غواړي، نود هغې په اشتهار کښې هم لیکي: **محفلِ میلادِ مصطفٰے** ❁ کہ څوک په رمضان المبارک کښې د برکت د پاره محفل کوی ، بیا هم **محفلِ میلادِ مصطفٰے** ❁ که په رجب کښې محفل وي، بیا هم **محفلِ میلادِ مصطفٰے** غرض، عاشقانِ میلاد ټول کال میلادونه کوي-

بعضې خلق په دې باندې تنقید کوي او دا خبره کوي چې دا د محفلِ میلاد کولو کومه موقع ده؟ واده دے، محفل کول دي، اوکړئ! خو دې ته محفلِ میلاد ولې وایئ؟ په دې موقع باندې ذِکرِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ولې کوئ؟

د داسې تنقید کوونکو په خِدمت کښې یو ساده شان پوښتنه ده: حضرت موسٰی عَلَيۡهِ السَّلَام 70 کسان د ځان سره کوهِ طُور ته بوتلل، هغه 70 کسانو گستاخي اوکړه، په هغوئي باندې عذاب راغلے، حضرت موسٰی عَلَيۡهِ السَّلَام د رحمت دُعا اوکړه، اوس اووایئ! دا د ذِکرِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کومه موقع وه؟ په دې ټوله واقعه کښې هغه کوم اړخ دے کوم چې تقاضا کوي چې ذِکرِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې هم اوکړے شي؟ خو قربان شم! د الله پاک د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره محبت څه داسې دے،چې خبره د رحمت شوې وه، حضرت موسٰی عَلَيۡهِ السَّلَام د خپل اُمَّت د پاره رحمت غوښتلے وو، الله پاک د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر شروع کړو او بیا ذِکر هم داسې نه چې بس اووئیلے شي: اے موسٰی! د ټولو نه خاص رحمت به د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّت ته میلاویږي- نه! نه--!! ذِکر چې د محبوب وي نو خبره لنډه نه شي کولے، د محبوب ذِکر

په تفصیل سره کولے شي، اللہ پاک هم د خپل محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذِکر په تفصیل سره اوکړو، یو، دوه نه بلکه پوره 9 صفتونه ئې بیان اوفرمائیل، بیا ئې د محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غلامانو شان هم بیان کړو۔

سُبْحٰنَ اللہ! د دې نه معلومه شوه چې د محبوب د ذِکر کولو د پاره د موقعو تلنه نه کیږي بلکه موقعې لټولے شي، د محبوب د ذِکر د پاره پخپله لارې راویستے شي، په هره خبره باندې د محبوب ذِکر کولے شي۔

| | |
|---|---|
| چار سُو ہیں کیا چھما چھم رحمتوں کی بارشیں | جھومتے ہیں ابرِباراں عیدِ میلادُ النَّبی |
| چار جانِب دُھوم ہے سرکار کے میلاد کی | جھومتا ہے ہر مسلماں عیدِ میلادُ النَّبی |
| عیدِ میلادُ النَّبی پر جو بھی کرتا ہے خوشی | اس پہ غُرّاتا ہے شیطاں عیدِ میلادُ النَّبی |

## ذِکرِ مصطفٰے او د قرآنِ پاک اُسلوب

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د قرآنِ کریم ډیر ښکلے اُسلُوب دے چې په قرآنِ کریم کښې په هره خبره کښې ذِکرِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شوے دے، تاسو چې دا واورئ نو خوشحاله به شئ چې د یو قول مطابق د قرآنِ کریم ټول آیتونه 6 زره 2 سوه 36 دي (1) او په دې 6 زره 2 سوه 36 آیتونو کښې 7 زره ځل باقاعده په لفظونو کښې ذِکرِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شوے دے۔ (2)

دقرآنِ مجید په هره خبره کښې ذِکرِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شوے دے، د دې صرف یو مثال وړاندې کووم:

سورۂ نَبَاً د 30 (دیرشمې) سیپارې وړومبے سورت دے، په دې سورت کښې د شروع نه تر آخره پورې د قیامت بیان دے، قیامت به څنګه راځي؟ د دې دلیلونه بیان شوي دي، بیا چې کله قیامت راشي نو مجرمانو ته به سزا څه میلاویږي؟ تقویٰ کوونکو ته به څه څه انعامونه ورکړے کیږي؟ دا هر څه په تفصیل سره بیان شوي دي، د دې سُورت مبارک په دویمه رُکوع کښې اللہ پاک جنّت والوو ته د نعمتونو بیانولو نه پس اوفرمائیل:

| | |
|---|---|
| جَزَآءً مِّنْ رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا ﴿۳۶﴾<br>(پاره:30، سورۂ نبا:36) | ترجمۂ کنزُ الایمان: صِلہ ستا د رَبّ د طرف نه، ډیره زیاته عطاده۔ |

---

(1)… بصائر ذوی التمییز ،باب الاول،بصیر ۃ فی مجملات السورۃ،جلد:1 ،صفحہ:559۔

(2)… بصائر ذوی التمییز ،باب الثلاثون،بصیر ۃ فی ذکر نبینا ،جلد:6 ،صفحہ:17۔

دلته یوه سوال په ذهن کښې راځی، هغه دا چې خبره روانه وه د قیامت، ذِکر د دې خبرې کیږي چې تقویٰ والوو ته به په جنَّت کښې کوم کوم انعامونه میلاویږي،نو په دې کښې اللّٰه پاک مِنْ رَّبِّكَ ولې اوفرمائیل؟ د جنتیانود انعام ذکروو، وئیلے شوے به وے: دا هر څه د رحمان عطا ده، دا د رَبُّ العالمین د طرف نه بدله ده، د رَبِّ کائنات ډیر صفتونه دي، په هغې کښې به ئې یو صفتي نوم ذِکر کړے وو، آخِر مِنْ رَّبِّكَ ئې ولې اوفرمائیلو؟ بیا چې رَبّ هم وئیل وو نو رَبُّ العالمین به ئې وئیلے وے، مِنْ رَّبِّكَ (یعني اے محبوبه! ستا د رَبّ د طرف نه) ئې ولې ارشاد اوفرمائیلو؟

حضرت عَلّامه محمود آلوسي رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه د دې جواب ورکړے دے، فرمائي چې: لِتَشْرِيْفِهٖ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یعني په دغه ځائے کښې (چې کله ذِکر د قیامت وو، تقویٰ والوو ته په جنت کښې د میلاویدونکو انعامونو ذِکر کیدلو) رَبِّ کریم د مِنْ رَّبِّكَ فرمائیلو سره د خپل محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شَرف او فضل بیان کړے دے۔ [1]

لکه په دې کښې چې کافِرانو ته وئیلے شي دی چې اے کافِرانو! ستاسو دا دروغژن خدایان به تاسو له هیڅ درنکړے شي، د دوزخ نه بچ کول او جنّت ور کول د هغه ربښتوني خدائے عنایت دے د کوم په حُضُور کښې چې مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سجده کوي، څکه

آج لے اُن کی پناہ، آج مدد مانگ اُن سے | پھر نہ مانیں گے قِیامت میں اگر مان گیا

سُبْحٰنَ الله! غور اوکړئ! خبره د قیامت وه، ذِکر د جنّتیانو د نعمتونو کیدو، اللّٰه پاک د مِنْ رَّبِّكَ فرمائیلو سره په جنّتیانو باندې د خپلو عطاګانو ذِکر هم اوکړو او د محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فضیلت ئې هم بیان کړو، داسې قِسمه په سوؤنو مثالونه په قرآنِ کریم کښې موجود دي، د دې ټولو نه معلومیږي چې په هره خبره کښې ذِکرِ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کول د قرآنِ کریم اُسلُوب(طریقه) دے۔ څکه خو د قرآنِ کریم نه نعت وئیل زده کوونکے، اعلٰی حضرت، امامِ اهلِسُنَّت رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه فرمائي:

خاک ہو جائیں عَدو جَل کر مگر ہم تو رضاؔ | دَم میں جب تک دَم ہے ذِکر اُن کا سُناتے جائیں گے

---

[1]...تفسر روح المعانی،پارہ:30 ،سورۂ نبا،تحت الآیۃ:36 ، جز:30 ،جلد:15، صفحہ:305۔

## د میلاد د میاشتې راتګ! مرحبا---!!

اے عاشقانِ رَسُول! چې د عشق مزاج هم دا دے چې په هره خبره کښې د محبوب ذِکر کولے شي، اوس خو د محبوب د ذِکر میاشت ده- دا خو هغه مبارکه میاشت ده،د کومې د میاشت په لیدو سره چې هغه ښکلي وختونه رایادیږي ✿ چې کله په مکه مکرمه باندې نُور راخور وو ✿ ستورې د زمکې طرف ته مائله وو ✿ په جهان کښې رنړائي خوریده ✿ د آسمانونو دروازې برسیره کړے شوې وې ✿ فرښتې په قطارونو کښې حاضریدلې ✿ په مشرق او مغرب او د کعبې په چهت باندې جنډے لګولے شوې وې چې خاص د صبحِ صادِق په وخت د حضرت آمنه رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا په کور مبارک کښې یو نور اوځلیدو ✿ په عالمِ کُفر کښې الغاؤ تلغاؤ شو ✿ د کسریٰ په محل باندې زلزله راغله، 4 کنګرے (عالي شان تاخونه) راپریوتل ✿ د ایران آتش ګدَه کومه چې د زر کالو نه روښانه وه، مړه شوه ✿ ساوَه دریاب وَچ شو ✿ کعبه په وَجد کښې راغله او بُتان سر د لاندې راپریوتل-

| | |
|---|---|
| تیری آمد تھی کہ بیتُ الله مُجرے کو جُھکا | تیری ہَیبت تھی کہ ہر بُت تھر تھرا کر گِر گیا[(1)] |

**وضاحت**: یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستاسو دنیا ته د تشریف راوړلو په مبارک وخت د الله پاک کور (یعني کعبه شریفه) کومې ته چې خلق ښکته کیږي، نن هغه ستاسو صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې ډیر په احترام سره د سلام عرض کولو د پاره ښکته شوه او د کعبې شریفې دننه په ایښودے شوؤ 360 بُتانو باندې ستاسو صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې رُعب او ویره راغله چې هغه ټول پړ مخې راپریوتل-

اے عاشقانِ رَسُول! د ربیعُ الاَوَّل د میاشتې په راتلو سره هغه ښکلې، نوراني وختونه رایادیږي، په دې مبارکه میاشت کښې خو زمونږ آقا، زمونږ مولا، محبوبِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دنیا ته تشریف راوړے وو-

چې د قرآنِ پاک اُسلوب هم دغه دے، د عشق مزاج هم دغه دے چې په هره خبره کښې دې د محبوب ذِکر اوکړے شي نو اووایئ! چې په دې مبارکه میاشت کښې عاشقانِ رسول د محبوب د ذِکر محفلونه ولې راجوړ نه کړي؟ ولې به په دې میاشت کښې کور په کور چراغونه نه روښانه کیږي؟ آؤ! آؤ! د محبوب ذِکر به کیږي، خامخا به کیږي، دنیا ته د راتلو په خوشحالئ کښې به مونږ ښه ډیر تلاوت هم کوو، ډیر درودِ پاک به هم لولو، کورونه به هم ښائسته کوو، چراغونه به هم روښانه کوو او په ذوق او شوق سره به د میلاد محفلونه هم کوو، د خپل ظاهر او باطن ښائسته

---

[1]...حدائقِ بخشش،صفحه:52 ـ

کولو کوشش به هم کوو او په خوشحالئ به د مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د راتلو نعرې هم وهو-

| | |
|---|---|
| منائیں گے خوشی ہم حَشر تک جشنِ ولادت کی | سجاوٹ اور کرنا روشنی ہر گز نہ چھوڑیں گے |
| اگرچہ جان بھی اس راہ میں قربان ہوجائے | مگر نَعتِ نبی پڑھنا کبھی ہر گز نہ چھوڑیں گے |
| نبی کے نام پر سو جان سے قربان ہوجائیں | غلامانِ نبی ذکرِ نبی ہر گز نہ چھوڑیں گے (1) |

| | | | |
|---|---|---|---|
| حُضُور کی آمد! | مرحبا! | غَیُّور کی آمد! | مرحبا! |
| پُرنور کی آمد! | مرحبا! | داتا کی آمد! | مرحبا! |
| مولیٰ کی آمد! | مرحبا! | پیارے کی آمد! | مرحبا! |

## په هر کور کښې د میلاد محفلونه اوکړئ!

اے عاشقانِ رَسُول! زمونږ د آقا او مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پاک میلاد دے، هر کور ښکلے کړئ! کوڅې هم ښکلې کړئ! ښه خوشحالي اوکړئ! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! د عاشقانِ رسول تقریباً په هر جُمات کښې د میلاد **محفل** کیږي، د دې سره سره کوشش اوکړئ چې که څوک مالداره وي او که غریب هر عاشقِ رسول دې په خپل کور کښې هم د میلاد **محفل** اوکړي- چا له چې الله پاک وَس ورکړے دے، هغوئي که اوغواړي نو په لوئي شان دې د میلاد **محفل** اوکړي او څوک چې غریبانان دي، هغوئي دې هم د خپل وَس مطابق په کور کښې د میلاد **محفل** اوکړي، که غواړي نو وړوکے شان **محفل** دې اوکړي خو د میلاد **محفل** دې خامخا اوکړي- هیڅ ګران کار نه دے، په خپل کور کښې چې چرته هم آساني وي نو پرده دې اوکړي او ځائے دې جوړ کړئ! د کوڅې د محلې که زیات نه وي نو 8، 10 اسلامي ورونړو له دې دعوت ورکړئ! د محلې د جُمات عاشقِ رسول امام صاحب په خِدمت کښې عرض اوکړئ! اِنۡ شَآءَ اللہُ الۡکَرِیۡم! هغوئي به هم د محبوب د ذِکر دپاره منع نه کوي، لږ شان تلاوت اوکړئ، یو یا دوه نعتونه اووایئ! امام صاحب دې 15، 20 منټه بیان اوکړي، که چرې د امام صاحِب یا بل عاشقِ رسول مبلغ ترکیب نه جوړیږي نو بیا هم ګرانه نه ده، د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ رساله ده: صبحِ بهاران، دغه شان د **مکتبۃ المدینه** نورې رسالې دي مثلاً **سیاه فام غلام، بهیانک اُونٹ، بڈھا پجاری، نور والا چهره، نور کا کهلونا،عاشقِ میلاد بادشاه** د دې نه یوه رساله یا په شانِ مصطفٰی باندې د 12 بیانونو وړوکے کتاب حاصل کړئ! که غواړئ نو د دعوتِ اسلامي د

---

[1]...وسائل بخشش،صفحه:414-415۔

ويب سائټ www.dawateislami.net نه ئې مفت ډاؤن لوډ کړئ! ېچپله ئې د نورو په مخکښې اولولئ، په آخِره کښې د خپل وَس مطابق څه خواړه وغيره تقسيم کړئ! که چرې څه خواړه هم نه وي نو بيا هم څه خبره نه ده، چې څه وي، هغه ټيک دي، د ميلاد د پاره لنګر يا خواړه وغيره هم ضروري نه دي، د الله پاک په دربار کښې پيسه او تابيا نه بلکه د زړه اِخلاص قبليږي- ځکه چې الله پاک کوم توفيق راکړے وي، په محفل کښې د برخه اخستونکو په خِدمت کښې ئې وړاندې کړئ! د ميلاد محفل به اوشي، د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ټول کال په کور کښې برکت وي-

## ميلاد کول هم په تعظيمِ مصطفٰے کښې شامل دی

په 26 سيپاره، سورۀ فتح 8 او 9 آيت کښې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّاۤ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّ مُبَشِّرًا وَّ نَذِیْرًاۙ(۸) لِّتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ وَ تُعَزِّرُوْهُ وَ تُوَقِّرُوْهُؕ وَ تُسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّ اَصِیْلًا(۹)<br>(پاره:26،سورۀ فتح:8 - 9) | ترجمۀ کنزُ الايمان: بے شکه مونږه ته ليږلے ئې حاضر او ناظر او زيرے ورکوونکے او ويرونکے،دی دپاره اے خلقوچی تاسو په الله او د هغه په رسول باندې ايمان راوړئ او د رسول احترام او عزت اوکړئ او سحر او مانبام د الله پاکي بيان کړئ- |

په دې آيتِ کريمه کښې الله پاک مونږ مسلمانانو ته د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پوره احترام او عزت کولو حکم کړے دے، علامه اسماعيل حَقي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ميلاد محفل جوړول هم د هغوئي په احترام او عزت کښې شامل دی-[1]

| | |
|---|---|
| ذِکرِ میلادِ مبارَک کیسے چھوڑیں ہم بھلا | جن کا کھاتے ہیں اُنہی کے گیت گاتے جائیں گے |
| مُنعَقِد کرتے رہیں گے اجتماعِ ذکرو نعت | دھوم اُن کی نعت خوانی کی مچاتے جائیں گے |

## د جشنِ ولادت لمانځلو ثواب

شيخ عبد الحق مُحَدِّثِ دهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د مديني سرکار، د زړونو قرار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت

[1]...تفسير روح البيان، پاره:26، سورۀ فتح، تحت الآية:29، جلد:9، صفحه:56-

(یعني دنیا ته د تشریف راوړلو) په شپه د خوشحالئ کوونکو بدله دا ده چې الله پاک به په خپل فضل او کرم سره دوئي جَنّاتُ النَّعِیم ته بوځي ❀ مسلمانانو همیشه د میلاد محفلونه، د ولادت په خوشحالئ کښې دعوتونه، د خوراکونو پخولو او د ښه صدقې او خیرات کولو تابیا کړې ده ❀ د وِلادتِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په موقع باندې ډیره خوشحالي کولے شي ❀ د الله پاک په لاره کښې د زړه د اِخلاصه لګولے شي ❀ د هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وِلادت باسعادت ذِکر تابیا کولے شي ❀ کورونه ښکلي کولے شي ❀ د دې ښه کارونو په برکت سره په مسلمانانو د الله پاک رحمتونه نازلیږي۔ (1)

## الله پاک فخر کوي

د اسلام وړومبي بادشاه، امیرِ سلطنتِ مصطفٰے، عظیم صحابئ رسول حضرت امیرِ معاویه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: یو ځل صحابهٔ کرامو عَلَیهِمُ الرِّضوَان حلقه جوړه کړې وه او ناست وو چې سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف راوړو، هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پوښتنه اوکړه: مَااَجْلَسَکُمْ؟ یعني اے زما صحابوو! تاسو دلته دا حلقه ولې جوړه کړې اوناست ئې؟ عَرض ئې اوکړو: جَلَسْنَانَدْعُوْاللّٰهَ وَنَحْمَدُهٗ عَلٰی مَاهَدَانَالِدِیْنِهٖ وَمَنَّ عَلَیْنَابِكَ یعني یَا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! الله پاک چې ستاسو د رالیږلو سره په مونږه باندې کوم اِحسان کړے دے،مونږ ته ئې د دینِ اسلام هدایت رانصیب کړے دے، مونږ په دغه نعمت باندې د الله پاک شُکر ادا کوو او دعاګانې کوو۔

خوږ نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بیا پوښتنه اوکړه: آیا تاسو قسم خورئ چې صرف د دې مقصد د پاره ناست ئې؟ عرض ئې اوکړو: په الله پاک مو دې قسم وي! مونږ صِرف د دې مقصد د پاره ناست یو۔ نو رسولِ رحمت شفیع اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: ما (په تاسو) باندې قسم دې د پاره اونه خوړو چې زما په تاسو باندې څه شک وو بلکه معامله دا ده چې اوس اوس جبریلِ امین عَلَیْهِ السَّلَام راغلےوو او اوئې وئیل چې یا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! (ستاسو صحابهٔ کرام دستاسو دنیا ته د راتلو په خوشحالئ کښې ناست دي او د الله پاک شکر ادا کوي او ) الله پاک د فرښتو په مخکښې په دوئي باندې فخر کوي۔ (2)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د محبوب (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) دنیا ته تشریف راوړل په خپل حق کښې د الله پاک عظیم اِحسَان منل، خپل مینځ کښې کښیناستل او په دې باندې د الله پاک شکر ادا کول یا

[1]...ما ثبت من السنۃ، صفحہ:102 ملتقطاً۔
[2]... نسائی،کتاب آداب القضاۃ، کیف یستحلف الحاکم،صفحہ:861 حدیث:5436۔

په نورو لفظونو کښې داسې اووائيئ چې د میلاد محفل کول ځومره د فضیلت والا کار دے چې صحابۀ کرامو عَلیهِمُ الرِّضوَان دا کار اوکړو نو الله پاک د فرښتو په مخکښې په دوئي باندې فخر اوکه -

| | |
|---|---|
| وہ لوگ خُدا شاہدِ قسمت کے سکندر ہیں | جو سرورِ عالَم کا میلاد مناتے ہیں |

## د مصطفٰے د میلاد محفل کولو برکتونه

علمائے کرام فرمائي: ❁ میلاد کول د مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِه وَسَلَّم د احترام کولو یو شکل دے ❁ د میلاد کولو سره مسلمان د الله پاک د یو لوئي نعمت (یعني د سرورِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِه وَسَلَّم دنیا ته د تشریف راوړلو) ذِکر کوي ❁ او د دې نعمت شکر ادا کوي ❁ د میلاد په ذریعه وَعظ او نصیحت کیږي ❁ د میلاد په برکت باندې په زړه کښې **عظمتِ رسول** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِه وَسَلَّم زیاتیږي ❁ او د عشقِ رسول په برکت سره ایمان مضبوطیږي لکه میلاد کول چې د ایمان د مضبوطولو ذریعه ده ❁ د مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِه وَسَلَّم د ذِکر په **محفل** د رحمت فرښتې راکوزیږي ❁ او د میلاد په برکت سره د دین او دنیا بے شمیره برکتونه میلاویږي-[1]

❁ **امام جلال الدِّین سیوطي شافعي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه **فرمائي**: په کوم کور، جُمات یا محلّه کښې چې میلاد شریف کولے شي ❁ فرښتې هغه کور، جُمات او محلّه په ګیره کښې واخلي ❁ او د فرښتو سرداران یعني حضرت جبریل، حضرت میکائیل، حضرت اسرافیل او حضرت عزرائیل عَلَیْهِ السَّلَام د میلاد شریف کوونکو د پاره د رحمت او رِضوان دُعا کوي- په کوم کور کښې چې میلاد شریف کولے شي ❁ الله پاک هغه کور د قحط ❁ وبائي مرضونو ❁ اوور لګیدو ❁ ډوبیدو او د داسې ډیر قسمه آفتونو نه بچ ساتي ❁ دغه کور کښې اوسیدونکي د بُغض او حَسَد نه ❁ د بد نظر نه ❁ او د غلا غُلطئ وغیره د خطرې نه بچ کوي ❁ او د دغه کور یو کَس چې چرې وفات شي نو په هغه باندې نَکِیرَین (یعني قبر کښې د پوښتنو کوونکو فرښتو) پوښتنې آسانې کړے شي-[2] ❁ **حضرت خواجه جنید بغدادي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه **فرمائي**: د میلاد په محفل شریف کښې د برخې اخستو او د دې محفل عزت او احترام کولو سره ایمان مضبوطیږي [3] ❁ **حضرت سِرّي سقطي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه **اوفرمائیل**: څوک چې د میلاد محفل ته د تللو اراده اوکړي، هغه په اَصل کښې د جنّت باغونو ته د تللو اراده اوکړه، ځکه چې د میلاد محفل صِرف او صِرف د محبتِ

---

[1]… میلادُ النبی منانا امتِ محمدیہ کا متفقہ عمل ،صفحہ:482 - 484۔
[2]…نعمۃ الکبریٰ لابن حجر،صفحہ:7بتقدم و تاخر۔
[3]…نعمۃ الکبریٰ لابن حجر،صفحہ:6 ۔

رسول صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په وجه راجوړولے شي او د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دے چې: مَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ څوک چې زما سره محبت اوکړي، هغه به په جنّت کښې زما سره وي-[1] ❀ **علامه قسطلاني** رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ **فرمائي:** ❀ د میلاد کولو په برکت سره ټول کال په کور کښې امن وي ❀ د مقصدونو حاصلولو دپاره میلاد کوونکو ته خوشحالئ میلاویږي ❀ د زړه مُرادونه ئې پوره کیږي-[2]

*تیرا کھاواں میں تیرے گیت گاواں یا رسولَ الله | تیرا میلاد میں کیوں نہ مناواں یا رسولَ الله*

## د میلاد شریف په برکت ورته شِفَا میلاؤ شوه

حضرت میاں غُلام حیدر رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ په بلوچستان کښې یو بُزرګ تیر شوے دے، د هغوئي یو مرید وو، د هغه نوم وو: جمعه وو- د ډهاډر ښار اوسیدونکے وو، د هغه د علمائے کرامو د لیکلے شوؤ میلاد نامو لوستو سره ډیر شوق وو- یو ځل حضرت میاں غُلام حیدر رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د څه کار د پاره ډهاډر ښار ته تشریف یوړلو، د هغوئي مُریدان د هغوئي سره د ملاقات د پاره حاضِر شول خو جمعه نومې ګس رانغلے، میاں صاحب رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ چې معلومات اوکړل نو ورته معلومه شوه چې هغه د تیر یو نیم کال راسې بیمار دے او د هغه ښپې وَچې شوې دي، ګرځیدے نه شي- میاں صاحب رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ هغه راوغوښتلو او اوئې فرمائیل: نن شپه میلاد نامه اولوله! الله پاک به خیر کړي- مُرید د پیر په فرمان باندې لَبَّیک اووئیلو او د پوره یقین سره ئې ټوله شپه میلاد شریف اولوستو، الله پاک په هغه باندې کرم اوکړو، سحر چې هغه راپاڅیدو نو د کوټئ په مرسته پخپله اودریدو، د میلاد شریف په برکت ورته شِفَا میلاؤ شوه او هغه په خپلو ښپو کور ته راورسیدو-

*جس وقت کوئی مَرحَلہ دُشوار آگیا | اُس وقت کام سیّدِ ابرار آگیا*
*برسیں گھٹائیں رحمتوں کی جھوم جھوم کر | رحمت سراپا جب مرا سردار آگیا*

## د میلادِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یو اهم برکت

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** نن سبا چې کوم ماحول دے، د اسلام دښمنان په پوره طاقت سره د اسلام ختمولو او په زړونو کښې د عشقِ رسول صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شمعې مړی کولو کوشش کښې اخته دي، په داسې

[1]...نعمة الکبریٰ لابن حجر،صفحه:7-
[2]... شرح زرقانی ،المقصد الاول،ذکر رضاعه ،جلد:1،صفحه:262 -

حالت کښې په پوره جوش او جذبې سره میلاد شریف کول ډیر اهمیت لري چې د میلادِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کولو سره یو خو دا چې په زړونو کښې محبتِ رسول صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زیاتیږي، بله دا چې د میلادِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په برکت سره کافِرانو ته دا پیغام ورکولے کیږي چې مسلمانان اوس هم د خپل آقا او مولا، مدینې دمصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره ډیره مینه کوي، څوک چې د میلاد په محفلونو، د کورونو، کوڅو، او د محلو په ښکلا باندې لکونه کروړونه روپۍ لګولے شي، هغوئي به د مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نوم باندې، د خپل ځان، مال او هر څه قربانولو نه هیڅکله پشا نۀ شی، داسې د مسلمانانو د اسلام او پیغمبرِاسلام صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د محبت اظهار کیږي بلکه بعضې وخت خو د جشنِ وِلادت په وجه د کافِرانو په زړونو هم داسې اثر کیږي چې هغوئي کلمه اووائي او مسلمانان شي -

## غیر مسلمو ته د ایمان دولت نصیب شو

حضرت عبد الواحد بن اسماعیل رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: په مِصر کښې یو عاشقِ رسول اوسیدو، چې ربیعُ الاوَّل شریف به راغے نو هغه به د خوږ آقا، رسولِ خُدا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جشنِ وِلادت ښه په جوش او جذبې سره لمانځلو، یو ځل د ربیعُ الاَوَّل شریف په میاشت کښې د هغه غیر مسلمه ګاؤنډئ د خپل خاوند نه پوښتنه اوکړه: زمونږه دا مسلمان ګاؤنډي په دې میاشت کښې هر کال دا خاص دعوت ولې کوي؟ خاؤند ورته اووئیل چې: په دې میاشت کښې د دوئي نبي (صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) زیږیدلے (دنیا ته ئې تشریف راوړے) وو، ځکه دا د هغوئي جشنِ وِلادت لمانځي، مسلمانان د دې میاشتې ډیر احترام کوي- نو دی غیر مسلمه ګاؤنډئ اووئیل: واه! د مسلمانانو طریقه هم څومره ښکلې ده چې دا دوئي د خپل نبي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هر کال جشنِ وِلادت لمانځي-

هغه غیر مسلمه ګاؤنډئ چې کله د شپې اوده شوه نو د هغې بخت رابیدار شو، په خوب کښې څه وینې چې یو ډیر ښکلي بزرګ تشریف راوړے دے، ګیر چاپیره ډیر زیات خلق دي، دا رامخکښې شوه او د چا نه ئې پوښتنه اوکړه: دا بُزرګ څوک دے؟ اوئې وئیل: دا نبي آخرُ الزّمان، رحمتِ عالمیان صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے، دوئي ځکه تشریف راوړے دے چې ستاسو د مسلمان ګاؤنډي ته د جشنِ وِلادت په لمانځلو باندې خیر او برکت ورکړي او د هغه سره ملاقات اوکړي- غیر مسلمه ګاؤنډئ پوښتنه اوکړه: آیا ستاسو نبي (صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) به زما د خبرې جواب راکړي؟ ویوونکي اووئیل: آؤ جي- نو غیر مسلمه ګاؤنډئ سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته آواز اوکړو- هغوئي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په جواب کښې لَبَّیک اووئیلو- هغه ډیره زیاته متاثره شوه او اوئې وئیل: زه خو مسلمانه نه یم، تاسو بیا هم ما ته په لَبَّیک وئیلو سره جواب راکړو- د مدینې سرکار، د

زړونو قرار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د الله پاک د طرف نه ما ته وئيلے شوي دي چې ته مسلمانيدونکې ئې- نو هغې بے اختياره چغې کړې او ويويل : بے شکه تاسو نبئ کريم، صاحِبِ خُلقِ عظيم ئې، څوک چې ستاسو نافرماني اوکړي، هغه هلاک شو او څوک چې ستاسو په قدر او منزلت ځان پوهه نه کړي هغه تاوانی دے- بيا هغې کلمهٔ شهادت اولوسته او ايمان ئې راوړو-

چې کله هغه راپاڅيده نوپه ربښتيا د زړه نه مسلمانه شوه- هغې د ځان سره دا اراده چې سحر د پاڅم نو خپل ټول مال به د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جشنِ وِلادت په خوشحالئ کښې لګووم، خه نياز به کووم- کله چې سحر هغه راپاڅيدله نو د هغې خاوند د دعوت دطعام په تيارئ کښې مصروف وو، هغې نوې مسلمانې شوې زنانه په حيرانتيا سره پوښتنه اوکړه: دا ته څه کوې؟ خاؤند ئې اووئيل: ستا د مسلمانيدو په خوشحالئ کښې د دعوت اهتمام کووم- پوښتنه ئې ترې اوکړه: تا ته څنګه پته اولګيده؟ خاؤند ئې اووئيل: ما هم بيګاه د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په لاس مبارک باندې ايمان راوړے دے-[1]

آمدِ سرکار سے ظلمت ہوئی کافور ہے | کیا زمیں، کیا آسماں، ہر سَمت چھایا نور ہے[2]

## د جشنِ وِلادت لمانځلو 12 مدني ګلونه

عظيم عاشقِ ميلاد، شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: (1): د جشنِ وِلادت په خوشحالئ کښې په جُماتونو، کورونو، دکانونو، د سوَرلُو (په ګاډو) باندې او په خپلو مَحَلّو کښې مدني جنډې اولګوئ ❁ ښه چراغونه روښانه کړئ ❁ په کور باندې کم نه کم 12 بلبونه خامخا اولګوئ ❁ د ربيعُ الاوّل شريف په دولسمه شپه د ثواب ګټلو په نيت سره په اجتماعِ ميلاد کښې شرکت اوکړئ ❁ او د صبحِ صادِق په وخت شنې شنې جنډې راواخلئ، درود شريف لولئ او د اوښکو نه په ډکو سترګو کښې د سپرلي سحر ته هر کلے اووائيئ ❁ په 12 ربيعُ الاوّل شريف که کيدے شي نو روژه اونيسئ چې زمونږه خوږ آقاء مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د ګل په مبارکه ورځ روژه نيوله او د خپل وِلادت ورځ به ئې لمانځله-[3] (2): مَعَاذَ الله بعضې ځايونو کښې د کعبهٔ الله شريف په نقشه کښې د ګډيانوطواف ښودلے شي، دا ګناه ده- د جاهليَّت په زمانه کښې په کعبهٔ الله شريف کښې 360 بُتان ايښودے شوي وو، زمونږ

[1] ... تذکرةُ الْواعِظين، صفحہ:598 و 600 بتغير قليل ـ
[2] ... وسائلِ بخشش، صفحہ:483 ـ
[3] ... مسلم،کتاب الصيام، باب استحباب صيام ثلاثة ،صفحہ:423،حديث:1162 ماخوذاً ـ

خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فتح مکې نه پس **کعبهٔ** الله شريف د بتانو نه پاکه کړه ځکه په نقشه کښې هم بُت (ګډئ) نه دي پکار، د دې په ځائے د پلاسټک ګلونه ايښودے شئ- (د طوافِ کعبه د نظارې تصوير په کوم کښې چې مخونه واضحه نه ښکاري هغه په جُمات يا کور وغيره کښې لګول جائز دي، آؤ که چرې کوم تصوير په زمکه باندې کيښودے شي او په ولاړه ورته د کتو سره په هغې کښې مخ واضحه په نظر راځي نو د هغې زوړندول ناجائزه او ګناه ده) **(3)**: داسې دروازې لګول جائزنه دي په کومو چې د ژوندو ځناورو تصويران جوړ شوي دي- د ژوندو ځناورو د تصويرانو په مذمت کښې 2 مبارک حديثونه اولولئ او د الله پاک نه ويرېږئ: ❁ د (رحمت ) فرښتې هغه کورته نه ننوځي په کوم کور کښې چې سپے يا تصوير وي- [(1)] ❁ خوک چې هم (د ژوندي) تصوير جوړوي الله پاک به ورله تر هغې پورې عذاب ورکوي تر څو پورې چې په هغه تصوير کښې رُوح وا نه چولے شي او هغه به دې کښې چرته هم رُوح وا نه چولے شي- [(2)] **(4)**: د جشنِ وِلادت په خوشحالئ کښې په بعضې ځايونو کښې سندرې غږولے شي داسې کول ګناه ده- د دې په باره کښې 2 روايتونه وړاندې کوو: ❁ سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ما ته د ډول اود شپيلئ ماتولو حکم شوے دے [(3)] ❁ د حضرت ضَحاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه روايت دے چې: سندرې زړه خرابوونکے او الله پاک خفه کوونکے (عمل) دے- [(4)] **(5)**: نعتِ پاک بے شکه لګوئ خو په ورو آواز کښې او د دې احتياط سره چې يو عبادت کوونکي، اوده يا مريض وغيره ته تکليف اونه رسي او د اذان او د لمونځونو د وختونو هم خيال ساتئ- (د زنانه په آواز کښې نعت مه لګوئ) **(6)**: په کوڅه يا سړک وغيره کښې داسې سينګار کول، جنډې لګول د کومې نه چې د پيدل تلونکو او ګاډو چلوونکو مسلمانانو ته تکليف نه وي، جائز نه دي **(7)**: د چراغونو دتماشې د پاره د زنانوؤ د نا اشنا سړو منيځ ته بے پرده ورتلل حرام او شرمناک عمل دے او د پرده کوونکو زنانوو هم په دې طريقه د نارينوو سره اختِلاط (يعني يو ځائے وتل) ډير افسوسناک کار دے- د بجلئ غلا هم جائز نه ده- ځکه په دې لړ کښې د بجلئ ورکوونکې ادارې سره رابطه اوکړئ او جائزه طريقوسره د چراغونو روښانه کولو ترتيب جوړ کړئ **(8)**: د ميلاد په جُلوس کښې ډير کوشش کوئ چې په اوداسه کښې ئيئ، د جَمعې سره د لمونځ کولو د پابندئ خيال ساتئ- **عاشقانِ رسول د جَمعې لمونځ پريښودو والا نه وي- (9)**: د ميلاد په جُلوس کښې د اَس ګاډئ او اوښ ګاډئ مه راولئ ځکه چې د اَس او اوښ په ميتيازو او خشنو سره د عاشقانِ رسول جامو وغيره د پليتيدو انديښنه وي- **(10)**: په جلوس کښې د **مکتبهٔ المدينه** رسالې ښه ډيرې تقسيم کړئ، د

---

[1]... بخاری،کتاب بدء الخلق ،باب اذا وقع الذباب ،صفحه:845 ، حديث:3322۔

[2]... تفسيرات احمديه،پاره: 21 ،سورهٔ لقمان ،تحت الآية: 6 ،صفحه:587۔

[3]...مسند فِردَوس، جلد:1، صفحه:398، حديث:1608۔

[4]... تفسيراتِ احمديه،پاره: 21 ،سورهٔ لقمان ،تحت الآية: 6 ،صفحه:587۔

میوې دانې وغیره شیندلو په ځائے خلقو له په لاسونو کښې هم داسې ورکړئ، د دې په زمکه باندې د پرېوتو او د ښپو لاندې د راتلو سره هم بے حُرمتي کیږي۔ **(11)**: نفرت پیدا کوونکې نعرې باعزته د میلاد جُلوس کښې اړے ګړے پید اکولے شي، په امن سره په اوسیدو کښې ستاسو خیر دے۔ **(12)**: الله دې نه کړي چې که چرې سوک کانړےوغیره هم راوولی نو بیا هم په جذباتو کښې د راتلو سره جوابي کاروائي مه کوئ چې ګنی د میلاد جلوس به ګډ وَډ شي او دښمن به په خپل مقصد کښې کامیاب شي۔ [1]

غُنچے چٹکے،پُھول مہکے ہر طرف آئی بہار | ہو گئی صبحِ بَہاراں عیدِ میلادُ النّبی[2]

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: هفته واره مدني مذاکره

اے عاشقانِ رَسُول! په زړه کښې د عشقِ رسول زیاتولو، نیک جوړیدو او د ایمان حفاظت کولو د ذِهن جوړیدو د پاره د دعوتِ اسلامي د دیني ماحول لمن اونیسئ او د دعوتِ اسلامي په دیني کارونو کښې پوره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د نیکو کولو او د ګناهونو نه د بچ کیدو ذِهن به مو جوړ شي۔ د ذیلي حلقې په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار دے: هفته واره مدني مذاکره۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د ماسخوتن د لمانځه نه پس په مدني چینل باندې نیغ په نیغه (***Live***) مدني مذاکره کوي، په کومه کښې چې بے شمیره عاشقانِ رسول په عالمي مدني مرکز فیضانِ مدینه (کراچۍ) کښې د حاضرېدو او د عِلمِ دین برکتونه حاصلوي۔ په زرګونو عاشقانِ رسول په خپلو ښارونو/ علاقو کښې په **شریکه د مدني مذاکرې** کتلو تابیا کوي او په **مدني چینل، سوشل میډیا** (مثلاً یوټیوب، فیس بُک وغیره) په ذریعه باندې خو پته نه لګي چې څومره خلق د دنیا په کوم کوم ځائے کښې مدني مذاکره ګوري، په دې مدني مذاکرو کښې شرکت کوونکي عاشقانِ رسول ته څنګه څنګه برکتونه حاصلیږي، راځئ! یو مدني سپرلے اورو:

## د عِلم او حکمت نه ډکه مدني مذاکره

د واه کینټ (پنډۍ ضلعې) د یو څلمي بیان دے چې: لمونځونه قضا کول، د فلمونو کتوپه وجه شیطان

---

[1]… صبح بہاراں ،صفحہ:20 - 24 ملتقطاً۔
[2]… وسائلِ بخشش،صفحہ:380۔

خوشحالول او د سندرو باجو وغیره اوریدو سره مست اوسیدل زما معمول وو، آه! زه په سُنتو باندې د عمل کولو نه محرومه ووم، زما د ګناهونو نه په ډک ژوند کښې رنړا څه داسې راغله چې یوه ورځ د دعوتِ اسلامي د یو مبلغ سره زما ملاقات اوشو، هغه زما د پوهه کړم او د اجتماعي سُنَّت اعتکاف ذِهِن ئې راکړو، د هغه په دې خوږ انداز کښې د نیکئ دعوت زما په زړه باندې ډیر اثر اوکړو او زه په اجتماعي اعتکاف کښې شریک شوم،بیا زما شپې او ورځې په عبادت کښې تیریدلې، ښکلو بیانونو او د ژړا نه ډکو دعاګانو زما د زړه دنیا بدله کړه، په کرم د پاسه کرم دا اوشو چې په اجتماعی اعتکاف کښې د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه د مدني مذاکرې اوریدو سعادت میلاؤ شو، د هغوئي د اثر نه ډکو لفظونو زه دومره متاثره کړم چې ما فوراً د خپلو ټولو زړو ګناهونو نه توبه کړه او د لمونځونو د پابندئ اراده مې اوکړه، د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه په ترغیب راکولو د وړوکي اختر په شپه کور ته د تللو په ځائے د الله پاک د لارې مسافر جوړ شوم چرته چې ما ته د عِلمِ دین د لعلونو نه د لمن ډکولو موقع میلاؤ شوه او د سُنَّتو زده کولو سره سره په دې باندې د عمل کولو جذبه مې هم پیدا شوه-

| مدنی مذاکرہ ہے شریعت کا خزینہ | اَخلاق کا، تہذیب کا، طریقت کا خزینہ |
|---|---|

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ایپلي کیشن پیژندګلو

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼرو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډیپارټمنټ **ماہنامه فیضان مدینه** موبائل ایپلي کیشن معارفي کړے دے- په دې ایپلي کیشن کښې دا بهترین آپشن موجود دي: ❁ د مختکښینو ټولو ماهنامه فیضانِ مدینه ***PDF*** ❁ د ټولو ماهنامو د مضمونونو (آرټیکلز) لیکلي شکل کښې موجود دي کوم چې د کاپي کولو سره شیئر (***Share***) کیدے شي ❁ سرچ آپشن په کوم کښې چې ټولې ماهنامې د لټولو سره سره هر یو مضمون لټولے شئ ❁ د ټولو مضمونونو د موضوعاتو په لحاظ سره ترتیب- سمارټ فون استعمالوونکي صارفین د پلے سټور (***Play Store***) نه دا ایپلي کیشن ډاؤن لوډ کړئ او پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو اسلامي وروڼرو ته هم د دې ترغیب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼرو!** بیان د ختمولو په طرفته راولم او د سُنّت د فضیلت او د ژوند د ځینو ادابو بیانولو

سَعَادت حاصلووم- د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## وليمه كول د مصطفٰے سُنَّتِ دى

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين**: **1**: وليمه كوئ كه هغه د يوې چيلئ (بيزې) ولې نه وي (2) **2**: بد خوراک د هغه وليمې دے په کومه کښې چې مالداره راوبللے شي او غريبانان پريښودے شي- (3)

**اے عاشقانِ رَسُول!** وليمه كول **سُنَّتِ مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ده ❀ زمونږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به وليمه كوله ❀ د اُمُّ المُؤمِنِين حضرت صفيه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا سره د نِکاح کولو په وخت خوږ آقا، رسولِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وليمه کښې حَرِيسه په خلقو اوخوړله- (4) **د حَرِيْسه وضاحت**: د کجورو، کوَچو، چوارو او غوړو جوړ کړے شوي خوراک ته حَرِيسه وئيلے شي، د دې ډير قِسمونه دي او په مختلفو طريقو جوړولے شي-

❀ دغه شان د اُمُّ المُؤمِنِين حضرت زينب رَضِیَ اللهُ عَنْهَا د نِکاح په وخت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وليمه کښې يوه چيلئ (بيزه) ذبح کړه، دا د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دطرفه نه په شوؤ وليمو کښې داد ټولو نه غټه وليمه وه- (5)

**د وليمې د دعوت په باره کښې مدني ګل:** ❀ وليمه د نارينه د حيثيت مطابق ده، مثلاً که غريب وي نو د خپل حيثيت مطابق دې وليمه اوکړي، مالداره دې د خپل حيثيت مطابق (6) ❀ وليمه د واده د شپې نه پس کول سُنَّتِ

---

1…مشكوٰة،كتابُ:الْإيمان،بابُ:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حديث:175۔

2…بخاری، كتاب:النكاح، باب:الوَلِيمَة ولو بشاة، صفحه:1329، حديث:5167۔

3…بخاری، كتاب:النكاح، باب:من ترک الدعوة، صفحه:1331، حديث:5177۔

4…بخاری، كتاب:النكاح، باب:الوليمة ولو بشاة، صفحه:1330، حديث:5169۔

5…بخاری، كتاب:النكاح، باب:الوليمة ولو بشاة، صفحه:1330، حديث:5168۔

6…فتح البارى، كتاب:النكاح، باب:الوليمة ولو بشاة، جلد:9، صفحه:293، تحت الحديث:5167 ۔

عمل دے، بعضې خلق د نِڪاح نه مخکښې ولیمه کوي،داسې کولو سره سُنَّت نه ادا کیږي- ✿ د ولیمې دعوت قبلول سُنَّت عمل دے، البته چې د کومې ولیمې یا دعوت په باره کښې معلومه وي چې هلته فضول کارونه (مثلاً سندرې ګډاګاني وي، یا زنانه او نارینه یو ځائے وي) هلته مه ځئ- [1]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د **مکتبۃ المدینه** د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه 16 حصې او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه د 100 صفحو کتاب **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو یوه ذریعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

بے عمل باعمل بن گئے خاص کر | آپ بھی دیکھ لیں قافلے میں چلو
خوب ہو گا ثواب اور ٹلے گا عذاب | پاؤ گے بخششیں قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِیۡن بِجَاهِ النَّبِیِّ الۡاَمِیۡن صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب     صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]...بہارِ شریعت، جلد:3، صفحہ:392، حصہ:16خلاصۃً۔